د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي

# د علمي - څېړنیزو مقالو لیکلو بلنه

**د څېړونکو ، استادانو او کارپوهانو د پام وړ!**

د هغه علمي- څېړنیز سیمینار د مقالو سرلیکونه چې د روان کال په وروستۍ اونۍ کې د علومو اکاډمۍ د ریاضي، فزیک او تخنیکي علومو د مرکز د ټکنالوژۍ او تخنیک انستیتوت له لوري د **" هېواد د ترانسپورت وضعیت، ستونزې او د هغو حل لارې"** تر سرلیک لاندې دایرېږي".

**شاخصونه:**

۱. د واټ د ترانسپورتي سیستم تنظیم د طرحو په وړاندې خنډونه او د هغوی د حل لارې.
۲. د جادې د ترافیک خوندیتوب په برخه کې ننګونې او د هغو د حل لارې.
۳. د هېواد د ترانسپورتي تأسیساتو ستونزې او د هغو د حل لارو څېړنه.
۴. د اړوند دولتي ادارو د الکترونیکي سیستمونو د تنظیم ستونزې او د هغو د حل لارې چارې.
۵. د هېواد په عمومي ترانسپورت کې د GIS د کارونې دودول.
۶. د ترانسپورتي زېربناوو د جوړولو پر وړاندې ستونزې او د هغو حل لارې.
۷. د ترافیکي پېښو ننګونې او د هغو د کمولو لارې چارې.
۸. د ټولنپېژندنې له نظره د ښاري ترانسپورت د و ضعیت څېړنه.
۹. د SWOT مټریکس په کارولو سره د عامه ترانسپورت د ستراتېژۍ تدوین.
۱۰. د افغانستان له لارې د مالونو د ترانزیت لپاره د سترات‌یژۍ د چمتو کولو اهمیت.
۱۱. د ترانسپورت الګوریتم په کارولو سره د کورنیو سوداګریزو توکو د لېږد څېړنه.
۱۲. د افغانستان د ټرانسپورټي سیستم په معیاري کولو کې د زېرک ټرانسپورټي سیسټم رول.
۱۳. د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې د ترانسپورت ونډه.
۱۴. د افغانستان په اقتصاد کې د ترانسپورت اهمیت او له ګاونډیو هېوادونو سره یې پرتله.
۱۵. په سیمه ییز اتصال کې د ترانسپورت رول.
۱۶. د ترانسپورت د چاپېریال د منفي اغېزو ارزونه او د هغې د کمولو لارې چارې.
۱۷. ښاري ودانۍ او د هغوی د ډیزاین ارزونه.
۱۸. د هېواد په ښارونو کې د پارکینګ د ستونزو څېړنه.
۱۹. د کابل ښار د ترانسپورت له سیستم سره سم د ودانیو د ډیزاین ارزونه.
۲۰. د هیواد د زېرک ټرانسپورټي سیسټم تنظیمولو لپاره د برېښنایي انرژۍ د ستونزو د حل لارې.

**یادونه:**

- مقالې د ورځې د میاشتې تر ۲۰ نېټې پورې منل کېږي.
-مقالې باید د A4 صفحې له ۵ مخونو کمې او له ۱۰ مخونو څخه زیاتې نه وي.
- مقاله باید لنډیز، سریزه، اهمیت، موخه، مبرمیت، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې میتود او مأخذونه ولري او د هغې سافټ او هارډ کاپي باید د علومو اکاډمۍ د ریاضي، فزیک او تخنیکي علومو مرکز ته وسپارل شي.
پته: د افغانستان د علومو اکاډمي، نوی ښار، تیلو پمپ ته مخامخ، د شاه بابوجان جومات ترڅنګ.

**د مبایل او واټسپ شمېره: ۷۹۹۱۹۳۹۴۲ ۹۳+ | برېښنالیک:** ajpolad@gmail.com